زابلي مرکز

د کتابونو بیاکتنه او پرتلیز تحلیل

پر نړیوالو مرستو بیا غور کول

د مړې مرستې، د سپین پوستي د اوږو بار، او یو میلیارد فقیران کتابونو ته انتقادي او پرتلییزه کتنه

مشتاق رحیم

اکتوبر ۲۰۲۶

د زابلي مرکز په اړه

د زابلي مرکز د افغانستان او سیمې پر اقتصادي څېړنو او د پالیسۍ پر تحلیل تمرکز لري. موږ څېړو چې د افغانستان تجربې په ورته شرایطو لرونکو اقتصادونو کې څه ډول ګټورې تمامېدای شي، او افغانستان د دغو هېوادونو له تجربو څخه څه زده کولای شي.

له بده مرغه، په افغانستان او ورته هېوادونو کې اقتصادي بحثونه ډېر ځله د تخصص او مسلکي پوهې پر ځای د شخصي نظرونو پر بنسټ ترسره کېږي. موږ هڅه کوو چې د اقتصادپوهانو او متخصصینو غږ پیاوړی او د هغوی نظرونه او څېړنې له خلکو سره شریکې کړو، څو پرېکړې د شواهدو او کره معلوماتو پر بنسټ وشي.

د اقتصادي څېړنو پرمختګ · د متخصصینو د غږ پیاوړتیا · د شواهدو پر بنسټ د پرېکړو ملاتړ

د څېړونې د حوالې ورکولو څرنګوالی

مشتاق رحیم (۲۰۲۶). د مرستو بیاځلي ارزونه: د بهرنی مرستې او پرمختګ په اړه د درېیو لیدلورو پرتلیزه څېړنه. د زابلي مرکز د کتاب کره کتنه او پرتلیز تحلیل. کابل: د مجید زابلي د اقتصادي څېړنو او پالیسۍ د تحلیل مرکز.

یادونه او سلب مسؤلیت

په دې څېړونه کې څرګند شوي نظرونه د لیکوال خپل نظرونه دي او په حتمي ډول د زابلي مرکز، د هغه د مدیره پلاوي یا تمویل کوونکو د نظرونو څرګندونه نه کوي.

© ۲۰۲۶ د مجید زابلي د اقتصادي څېړنو او پالیسۍ د تحلیل مرکز. ټول حقوق خوندي دي

وېبپاڼه: zabulicenter.org

فهرست

۱. سریزه 1
۲. د کتابونو بیاکتنه 1
۱.۲ مړې مرستې (Dead Aid) 2
۲.۲ د سپین پوستي د اوږو بار 3
۳.۲ یو میلیارد فقیران 4
۳. پایله 5
کتابښود او سرچینې 6

۱. سريزه

د بشري هوساينې، سوکالۍ، او ټولنيز او اقتصادي پرمختګ د ترلاسه کولو هڅه د پوهانو او پاليسي جوړوونکو لپاره يوه مهمه څېړنيزه موضوع پاتې شوې ده. ګڼ شمېر دولتي او اقتصادي سيستمونه د مفکرينو او پوهانو له خوا د فقر او وروسته پاتې والي د درملنې په توګه وړاندې شوي، خو نړۍ لا هم د بشري پرمختګ د قناعت وړ کچې ته د رسېدو لپاره مبارزه کوي. له دويمې نړيوالې جګړې وروسته پرمختللو هېوادونو دا پر ځان لازمه وګڼله چې بېوزلو هېوادونو سره مرسته وکړي، تر څو له فقر څخه اقتصادي ثبات، پرمختګ او هوساينې ته ورسېږي. د دوه اړخيزو او څو اړخيزو مرستو له لارې د نړۍ بېوزلو هېوادونو او سيمو ته د فقر او وروسته پاتې والي د له منځه وړو لپاره ميلياردونه ډالر ورکړل شوي دي، خو لا هم ميلياردونه انسانان او نږدې د نړۍ ځلورمه برخه هېوادونه د فقر او وروسته پاتې والي په کړکېچ کې ګېر پاتې دي.

درې کتابونه، چې درېيو پوهانو او څېړونکو ليکلي، پر دې بحث کوي چې ولې بېوزلي لا هم د پراخو مالي او تخنيکي پانګونو سربېره دوام لري. دامبيسا مويو په خپل کتاب «***مړې مرستې: ولې مرستې اغېزمنې نه دي او د افريقا لپاره يې غوره بديل څه دی***»، ويليم ايسټرلي په «***د سپين پوستي پېټی***»، او پال کاليير په خپل کتاب «***د يو ميليارد فقيران***» کې دا استدلال کوي چې دودېزې بهرنۍ مرستې نه دي توانېدلي چې هېوادونه له سختې بېوزلۍ راوباسي او د پرمختګ پر لور يې روان کړي. دوی استدلال کوي چې مرسته کوونکي هېوادونه بايد خپلو ستراتيژيو ته بياکتنه وکړي، تر څو مرسته د فقر او وروسته پاتې والي پر وړاندې يوه مؤثره وسيله شي. ليکوالان وړانديز کوي چې پراختيايي مرستو د لا اغېزمنتيا لپاره دې د پلان جوړونې، پروګرام پراختيا، مرستو وېش، او د بودېجې تخصيص تګلارې بياځلې وکتل شي. نوموړي ليکوالان د مرستو د اوسني وېش پر څرنګوالي شک څرګندوي او د شرطونو پر بنسټ د مرستو د ورکړې غوښتنه کوي چې په دې کې بايد د بنسټيزو ادارو پراختيا، ښې حکومتولۍ، او حساب ورکونې باندې زيات تمرکز وشي.

۲. د کتابونو بياکتنه

۱.۲ مړې مرستې (Dead Aid)

مړې مرستې په ۲۰۰۹ زېږديز کال کې د زامبيا هېواد اقتصاد پوهې، دامبيسا مويو، ليکل شوی اثر دی، چې په افريقا کې د بهرنۍ مرستو يوه سخته انتقادي شننه وړاندې کوي (D. Moyo, 2010) . مويو آن تر دې کچې استدلال کوي چې بهرنۍ مرستې افريقا ته د ګټې پر ځای د تړاو يا اتکاء، ناوړه حکومتولۍ، او فساد يوه ناوړه او دوامداره کړۍ رامنځته کړې ده. په خپل لومړي فصل کې، نوموړې هغه پخوانی باور ننګوي چې ګواکې مرستې د افريقا د پرمختيايي ستونزو حل لاره ده، او دا چې بهرنۍ مرستې به افريقا ته دا توان ورکړي چې خپل اعظمي ظرفيت ته ورسېږي او په يوه سوکاله سيمه بدله شي. او دا چې د بهرنيو مرستو ورکول به افريقا ته د خپل اعظمي ظرفيتد ترلاسه کولو زمينه برابره کړي او دا سيمه به سوکاله شي. نوموړې استدلال کوي چې په افريقا کې د مرستو له لارې له يو ټريليون ډالرو څخه پورته پانګونه شوې ده، خو سره له دې افريقا لا هم بېوزله پاتې ده او د ژوند شرايط د دې وچې په ډېرو هېوادونو کې لا هم خراب دي. مويو پر هغو زيانونو تمرکز کوي چې له مرستو سره تړلي دي؛ نوموړې مرسته د مرسته کوونکو له خوا پر ګټو ولاړه پانګونه بولي او د مرستې سکتور د يوه صنعت به توګه يادوي. خو هغې له دې فرضي بديل حالت سترګې پټې کړي چې که مرستې نه وای، بېوزله هېوادونه به له کومو پايلو سره مخ وای؟ د يونيسف له خوا د مرسته کوونکو په ملاتړ د ماشومانو د مړينې د کمولو پروګرامونو په پايله کې، د پنځو کلونو څخه د کم عمره ماشومانو د مړينې نړيواله کچه ٦١ سلنه راټيټه شوې ده؛ په ۱۹۹۰ کال کې له هرو ۱۰۰۰ نويو زېږېدلو ماشومانو څخه يې ۹۴ مړه کېدل، چې خوشبختانه دا کچه په ۲۰۲۳ کال کې ۳۷ تنو ته راټيټه شوې ده (Child Mortality, 2025). د اټکل له مخې، په ۲۰۲۱ کال کې د HIV يا ايډز ناروغۍ درلودونکي ۳۸,۴ ميليونه انسانانو له ډلې ٦٧ سلنه يوازې د افريقايي صحرا له سوېلي هېوادونو څخه وو (E. Moyo et al., 2023). نړيوال روغتيايي سازمان (WHO) له ګڼو مرسته کوونکو هېوادونو سره يوځای د دې ناروغۍ د نړيوال غبرګون مشري کړې (WHO, 2024) .

یاد کتاب په دې هم تمرکز کوي چې مرستې فساد او کمزورې حکومتولي هڅوي. مویو څرګندوي چې له شرطونو پرته مرستې ډېری وخت د فاسدو مشرانو لاس ته ورځي، چې هغوی یې د خپلو شخصي ګټو یا سیاسي سرپرستۍ لپاره کاروي. نوموړې د مرسته کوونکو د چلند اخلاقي خطر (Moral Hazard) هم روښانوي چې پر بنسټ یې ناکام دولتونو ته د لا زیاتو مرستو په ورکولو تمرکز لري. د هغې په باور، هغو هېوادونو ته د پرله‌پسې مرستو ورکول چې د پالیسیو د بدلون او بنسټیزو اصلاحاتو وړتیا نه لري؛ د مشرانو لپاره دا زمینه برابره کړې چې د پالیسۍ په کچه له سختو پرېکړو تېښته وکړي چې دې چارې په افریقا کې د اصلاحاتو بهیر ورو کړی دی. د دې بحث له مخې، مویو په دې ټینګار کوي چې د پنځو تر لسو کلونو په موده کې باید افریقایي هېوادونو ته د مرستو ورکول په تدریجي ډول پای ته ورسېږي. د هغې په باور، دا تګلاره به هېوادونه اړ کړي چې د پالیسیو او بنسټیزو اصلاحاتو په برخه کې سختې پرېکړې وکړي چې دا به د پرمختګ لامل شي. پر بېوزلو هېوادونو د مرستو بندون په اړه د نوموړې نظریې سره، هغه دا چې دا به د آسانه سرچینو بهیر ودروي او هېوادونه به وهڅوي څو د کورنیو او پایدارو سرچینو لټه وکړي، نور کارپوهان هم موافق دي(Micheal, 2025) .

خو مویو دا حقیقت له پامه غورځوي چې که څه هم د پالیسیو جوړول او بنسټیز اصلاحات د ټولنیز-اقتصادي پرمختګ اساس دی، خو د پالیسیو پلي کول تل مالي سرچینو او تخنیکي وړتیاوو ته اړتیا لري، چې دا دواړه په اقتصادي لحاظ بېوزلو هېوادونو کې محدوده دي. بنرجي او ډفلو کلک باور لري چې فقر یوازې د پیسو کمښت نه دی، بلکې د یو شمېر لازمو او ملزومو ستونزو ټولګه ده، لکه ناروغتیا، ناکافي زده‌کړې، او د پوروونو د لاسرسي نشتوالی. دا دوه پوهان، چې په بېلابېلو شرایطو کې یې د تصادفي کنټرول شویو ازموینو (RCTs) له لارې تجربه کړې، باور لري چې کوچنۍ برنامې کولای شي د پالیسي پر کچه د معقولو پرېکړو په ګډون سترې اغېزې ولري(Banerjee & Duflo, 2012) . په ورته وخت کې، د پال کالییر په څېر څېړونکی هم دا مني چې د مرستو دودیزه تګلاره اغېزمنه نه ده، خو هغه د مرستو د بندېدو پلوی نه دی. کالییر ټینګار کوي چې له اجراتو سره تړلې ستراتیژیکې مرستې، کولی شي هغه هېوادونه چې د بېوزلۍ په دام کې ګېر دي، ورو ورو د پرمختګ پر لور روان کړي(Collier, 2009) .

مویو سوداګرۍ، بهرنۍ مستقیمه پانګونه،د کوچنیو پوروونو ورکړه (مایکروفایننس)، او په بهرنیو هېوادونو کې د مېشتو کډوالو له لورې حوالې (ریمیټینسیز) د افریقا لپاره د پایدار پرمختګ د ترلاسه کولو بدیلې لارې ګڼي. په همدې لړ کې، نوموړې یو بشپړ فصل د چین د مرستو ماډل ته ځانګړی کړی چې په افریقا کې د پانګونې پر بنسټ ولاړ دی. کالییر هم د دې نظریې ملاتړی دی، ځکه هغه ټینګار کوي چې د ستونزې د حل لپاره باید د نړۍ تر ټولو بېوزلو هېوادونو ته په نړیوال بازار کې د رقابت په موخه د سوداګرۍ ځانګړي امتیازونه ورکړل شي، تر څو هغوی رقابتي پاتې شي او بهرنۍ پانګونه پراختیا ومومي. خو د دې موخې د تحقق لپاره باید په ټولنه کې د پانګونې مناسب چاپېریال، د شواهدو پر بنسټ پالیسي جوړونه، او مسلکي بشري پانګه موجوده وي. په ورته وخت کې، مخکې له دې چې د چین د پانګونې ماډل د غوره بدېل په توګه ومنل شي، څېړنې او شواهدو ته اړتیا ده. په تېرو لسو کلونو کې د چین د پوروونو دام یا debt-trap د پوهانو ترمنځ د بحث یوه لویه موضوع پاتې شوې ده. ځینې پوهان په هغو هېوادونه چې د چین لپاره ستراتیژیک اهمیت لري، په سترو بنسټیزو پروژو باندې پراخو پانګونو ته د یوه داسې دام په سترګه ګوري چې پور اخیستونکي هېوادونه د چین تر نفوذ لاندې زیان‌منونکي پرېږدي (Chellaney, 2017). نو له همدې امله استدلال کېدی شي چې تر اوسه ډېر وختي دی او د غوره بدیل په توګه د دې ماډل د منلو لپاره کافي تجربوي څېړنې نشته. همداراز، د بېوزلۍ کمښت له سترو بنسټیزو پروژو سره تړل، لکه چین یې چې ترسره کوي؛ د یوې لویې ستونزې یو سطحي تحلیل ګڼل کېږي، ځکه دا ستونزه په ناپراخې بشري پانګې، خرابې حکومتولۍ، د پالیسیو او قوانینو تشه، کمزوري سیاسي او مدني ټولنیز جوړښتونو، جیوپولیټیکي واقعیتونو او همداراز د زیربناوو په کمښت کې خپلې رېښې لري.

په ټوله کې، دا کتاب له پاروونکو دلایلو سره سره دا وړتیا لري چې بسپنه ورکوونکې ټولنې دې ته وهڅوي ترڅو خپلې تګلارې له سره وارزوي .همداراز، دا اثر د بهرنۍ مرستو په اړه دودیز تفکر او موجوده وضعیت ننګوي. که څه هم مویو د مرستو اغېزناکتیا له حده ساده کړې، خو نوموړې په دې کتاب کې وتوانېده چې د بسپنه ورکوونکو او مرستندویه بنسټونو لپاره د یوې پیاوړې خبرداری زنګ ووهي.

۲.۲ د سپین پوستي د اوړو بار

د سپین پوستي د اوړو بار د ۲۰۰۶م کال اثر دی چې د اقتصادپوه او نړیوال بانک پخواني سلاکار ویلیام ایسټرلي لخوا لیکل شوی دی. دا کتاب د هغو علمي آثارو له جملې څخه دی چې د ۲۰۰۰مو کلونو په پیل کې راڅرګند شول او د بسپنه ورکوونکو د مرستو پر دودېزې تګلارې یې نیوکه وکړه. د کتاب اصلي استدلال دا دی چې د لوېدیځو هېوادونو بهرنۍ مرستې له پورته څخه ښکته لورې ته د تګلارې له امله د بېوزلۍ په کمولو کې ناکامې شوې دي. هغه استدلال کوي چې د مرستندویه حکومتونو او څو اړخیزو بنسټونو بداېه بیروکراسي پر بېوزله هېوادونو ستر

پرمختيايي پلانونه تيي، خو نوموړي ولس ته چې دوی يې د مرستې هڅه کوي، ځواب ويوونکي نه وي. نوموړی د دې چارو رهبري «پلانوونکي» بولي. د هغه په اند، سيمه ييزو اړتياوو ته اغېزمن او تلپاتې ځواب د ځايي خلکو لخوا رامنځته کيږي چې ايسټرلي يې «لټونکي» بولي، دا هغه کسان دي چې له ښکته څخه پورته لوري ته د تګلارې او د خلکو د واقعي اړتياوو پر بنسټ عملي حل لارو په لټه کې وي (Easterly, 2006).
د ايسټرلي استدلال په يوه مهم اړخ کې د مويو له نظريې سره همغږی دی، دوی دواړه پدې باور دي چې اوسنی د مرستو نظام د بېوزله هېوادونو د بدلون وړتيا نه لري. خو له مويو سره يې توپير دا دی چې ايسټرلي د مرستو د پرې کېدو غوښتنه نه کوي، بلکې د مرستو محلي کول غواړي يعنې د ټولو لپاره له وړاندې ترتيب شويو تګلارو او حل لارو پرځای دې داسې برنامې ترتيب شي چې له محلي اړتياوو سره مستقيم تړاو ولري.

کتاب کې د استدلال د لا پياوړتيا لپاره ايسټرلي له تجربوي شواهدو او واقعي کيسو څخه ګټه اخيستې ده .نوموړی د پلان جوړونې او پروګرامونو په برخه کې يوې مهمې ستونزې ته اشاره کوي او وايي چې بسپنه ورکوونکي او څو اړخيز بنسټونه؛ لکه ملګري ملتونه او نړيوال بانک، خپل ماډلونه يا تګلارې پر ټولو هېوادونو تپي. ايسټرلي وايي، هر سيمه‌ييز او فرعي سياق يو له بله بېل، پېچلی او له خپل ځانګړي سياسي-ټولنيز پېچلتياوو سره مل وي. له همدې امله، د ځايي ستونزو حل يوازې د ځايي حل لارو له لارې ممکن دی. نوموړی پخپل استدلال کې د تصادفي کنټرول شويو تجربو (RCTs) د تګلارې اړونده د بينرجي او ډفلو له نظرياتو سره همغږی دی. دا هغه تګلاره ده چې لومړی ازمويل شوې، پرې څېړنه شوې، او وروسته عمومي شوې. ايسټرلي د پراخو مرستو (Big Push) نظريه هم تر پوښتنې لاندې راولي، چې وايي په پراخه کچه مرستې کولی شي بېوزله هېوادونه له بېوزلۍ وباسي. خو هغه پدې استدلال کوي چې دا نظريه پرمختګ ډېر ساده انځوروي او هغه پېچلې سياسي، ټولنيز او اقتصادي عوامل له پامه غورځوي چې په عمل کې اغېزې لري. شواهد دا نظر نه تاييدوي چې د پراخو مرستو تزريق اوږدمهاله وده رامنځته کوي. افغانستان او عراق د دې ډول ناکاميو بېلګې دي، د سترو پانګوونو سره سره بيا هم دا هېوادونو سوکالۍ ته و نه رسېدل، برعکس فساد او جګړه ييز اقتصاد يې پياوړی کړو (Steve, 2021). په ورته ډول، ايسټرلي پر هغو اصلاحاتو هم نيوکه کوي چې له بهر څخه پر هېوادونو تپل کيږي، لکه د نړيوال وجهي صندوق (IMF) او نړيوال بانک له لوري هغه اصلاحات چې د مالکيت له نشتون سر مخ او د محلي اړتياوو ځوابوونکي نه وي. ډېری وخت د "ص صحيح" بڼه لري، يعنې د واقعي اصلاحاتو ځای نه نيسي. ايسټرلي پر دې ټينګار کوي چې بازارونه دومره پېچلي دي چې د مرکزي پلان له لارې نشي کنټرولېدلی او همدا ده چې برنامې ډېری وخت ناڅاپي او منفي پايلې زېږوي. د کتاب قوي ټکی دا دی چې نوموړی پر افراطي نظريو ولاړ نه دی، بلکې يوه متوازنه او پر شواهدو ولاړه انتقادي ارزونه وړاندې کوي.

د ايسټرلي دا استدلال نور ليکوالان هم تکراروي. بارنيټ او واکر د مرستندويه بنسټونو د متمرکزيت او د حساب ورکونې د نشتوالي ستونزه رابرسېره کوي او وايي چې دغه ناکامي تر ډېره بريده د يوې نړدې تړلې ډلې د اغېز پايله ده چې د "بشري مرستو کلب" په نوم ياديږي؛ دا د دولتونو، مرستندويه ادارو، نړيوالو سازمانونو او غير دولتي مؤسسو منظمه او د مراتبو د سلسلې شبکه ده چې د ملګرو ملتونو د سيستم پر محور ولاړه ده(Barnett & Walker, 2015) .

د مويو په څېر، ايسټرلي هم دا موضوع څېړي چې بهرنۍ مرستې څنګه په ناڅاپي ډول فاسد رژيمونه پياوړي کولی شي. نوموړی استدلال کوي چې مرستې کولای شي ولسونو ته د حساب ورکونې په برخه کې پر حکومتونو فشار را کم کړي، ځکه چې د ولسونو پر ځای پر بهرنيو پيسو تکيه کوي. په مرستو متکي هېوادونه لکه افغانستان او عراق کې داسې ګڼ شواهد موندل کيږی چې خلکو ته حساب ورکونه پکې په ټيټه کچه ليدل کېده، ځکه چې چارواکو خپل ځان د خلکو پر وړاندې مسؤل نه ګڼل. د دې ستونزې د حل لارې په توګه، ايسټرلي د ځايي ستونزو لپاره د کور دننه طرح شويو حل لارو ملاتړ کوي، چې د پرمختګ لپاره يې ارزانه او اغېزمنه تګلاره بولي.

که څه هم ايسټرلي د پراختيا لپاره په دوديزه تګلاره کې لويې نيمګړتياوې په ګوته کوي، خو د نوموړي دوامداره تمرکز لا هم پر سيمه ييزه کچه پاتې کيږي. پراخ شواهد شته چې که حساب ورکوونه او اغېزمنه حکومتولي؛ هغه پاليسۍ چې د اقتصادي ودې لپاره مناسب چاپېريال رامنځته کوي او حقوقي چوکاټونه چې د قانون حاکميت پياوړی کوي، موجوده نه وي، نو د سيمه ييزو اړتياوو لپاره کوچنۍ کچې ځوابونه يا حل لارې به د اوږدمهاله او دوامدار بدلون لامل نه شي. ايسيموغلو او رابنسن استدلال کوي، هغه ټول شموله بنسټونه چې د خلکو ګډون ته وده ورکوي، د شتمنيو حقونه خوندي کوي، او د قانون حاکميت تأمينوي؛ د پراخ اقتصادي پرمختګ او سوکالۍ اصلي سرچينې دي (Acemoglu & Robinson, 2012).

دې ته په کتو چې نړيوال پرمختګ تر ډېره د برياليو تجربو څخه د زده کړې، د ځايي وړتياوو د نشتون پر مهال د بهرنيو متخصصينو څخه په ګټه اخيستنې او د غوره کړنو يا تګلارو د بيا کارونې پر بنسټ ولاړ دی، نو د ايسټرلي له لوري وړانديز شوې پر کورنيو سرچينو متمرکزه تګلاره بشپړه نه ښکاري. که څه هم دا کتاب «له پورته څخه ښکته لوري ته» تګلارې پر وړاندې د شواهدو پر بنسټ پياوړي استدلال وړاندې کوي، خو د دې

دوو تګلارو له پورته څخه ښکته لوري ته او له ښکته څخه پورته لوري ته تر منځ؛ منځنۍ تګلاره نه وړاندې کوي چې ذکر شوې دوه نورې تګلارې سره ونښلوي. د داسې یوې مدغم شوې تګلارې نشتون دا انګیرنه پیدا کوي چې ایسټرلي له یوې افراطي لارې (له پورته څخه ښکته لوري ته) څخه بله افراطي لاره (له ښکته څخه پورته لوري ته) غوره کړې ده.

۳.۲ یو میلیارد فقیران

پال کولییر په خپل نوښتګر او مخکښ اثر کې پر هغه یو میلیارد تر ټولو بېوزلو خلکو تمرکز لري چې د نړۍ په ۵۸ هېوادونو کې ژوند کوي او استدلال کوي چې ولې تر ټولو بېوزله هېوادونه ناکامیږي، او په تړاو یې څه کول پکار دي (Collier, 2009). که څه هم په دې اثر کې نوموړی د بهرنۍ مرستې موضوع د مویو او ایسټرلي په څېر په مستقیم ډول نه څېړي، اما د بسپنه ورکوونکو د مالي مرستې په اړه یې څرګندې او پیاوړې ادعاوې یې د دې بیاکتنې له موضوع سره نښلوي.

کتاب څلور بنسټیزې ستونزې وړاندې کوي چې کولییر یې د "بېوزلۍ دامونه" بولي چې (۱) شخړه/اخ و ډب، (۲) طبیعي سرچینې، (۳) په وچه کې ایسار هېوادونه او ناوړه ګاونډیان، او (۴) ناوړه حکومتداري او کوچني هېوادونه پر عنوانو یې سره ویشي. نوموړی د هر دام هر اړخیزه څېړنه کوي، پیل یې له شخړې څخه کوي. کولییر استدلال کوي چې کورنۍ جګړې هم د بېوزلۍ لامل او هم یې پایله ده. هغه وړاندېز کوي چې په دغو هېوادونو کې باید جګړې پای ته ورسېږي او د جګړې وروسته د بیا رغونې چارې د نړیوالو مرستندویانو لخوا پیل شي څو هېوادونه ثبات ومومي. د طبیعي سرچینو پر زیات استخراج د اتکاء له امله زېږېدونکو اقتصادي ستونزو "ډچ ناروغۍ" باندې تمرکز پر مهال، کولییر په طبیعي سرچینو بډایه هېوادونو کې فساد او له ارزښت پرته د ګټې ترلاسه کولو (Rent Seeking)؛ ولسواکي او حساب ورکونه کمزورې کړې او هېوادونه یې د پراخو شتمنیو سره سره د اقتصادي بقا لپاره په مبارزه کې پرېښي دي. د جغرافیې پر اهمیت ټینګار کوي او وايي هغه هېوادونه چې په وچه کې پراته دي؛ د ښو زیربناوو او د سمندریزو سوداګریزو لارو ته د لاسرسي د نشتون له امله د پرمختګ لپاره له جدي ستونزو سره مخ دي. د هغه وروستی ادعا دا ده چې کمزورې حکومتولي د فساد، ناسم اقتصادي مدیریت، او کمزورو بنسټونو لامل کیږي. د دې ټولو دامونو څخه د خلاصون لپاره کولییر پر دې باور لري چې یو میلیارد فقیرانو ته د بهرنۍ مرستو اړتیا ده.

د کتاب بیاکتنه، په ځانګړي ډول د بېوزلۍ د دامونو او پر وړاندې یې د مبارزې لپاره د وړاندیز شویو لارو په برخه کې تر ډېره عمومي بڼه لري. که د ایسټرلي ادعا ته پام وشي، کولییر دا ستونزې په یو څه سطحي لید او له پورته څخه ښکته لوري د تګلارې له مخې څېړلې دي. په بل عبارت، د یو میلیارد فقیرانو یوه پراخ لیدلوری وړاندې کوي چې کولی شي په دې برخه کې د شته باریکیو له پامه غورځولو د دوام لامل شي. د هغه دا ټینګار چې بهرنیان دې د شخړو په حل کې ښکېل شي او آن پوځي مداخله دې وکړي، د شخړو د مدیریت لپاره یو نوی استعماري چلند ته ورته ښکاري. په داسې حال کې چې نوموړی د مدني ټولنې، سیاسي ګوندونو، ځایي اصلاحاتو، او ټولنیز-سیاسي پخلاینې په ګډون د ځايي ظرفیت رول له پامه غورځوي. له کوریایي جګړې څخه نیولې تر ویتنام، افغانستان او عراق پورې، د تېرو نږدې ۷۵ کلونو تجربې ښیي چې له بهر څخه د شخړو د حل هڅې بیا بیا ځلې ناکامې شوې دي. سربیره پر دې، لکه څه ډول چې مویو په ټینګه استدلال کړی دی، بهرنیو پرمختیایي مرستو په افریقا کې هم پایلې نه دي ورکړې. سره له دې ټولو نیوکو، کتاب د هغو بنسټیزو ننګونو په اړه یو عمومي انځور وړاندې کوي چې تر ټولو زیانمنې ټولنې ورسره مخ دي.

له دې امله چې د کولییر ټول بنسټیز استدلال، ستونزمنو هېوادونو لپاره د بهرنیو مرستو د چمتو کولو پر بنسټ ولاړ دی، نوموړی بهرنۍ مرستې د نړۍ تر ټولو زیانمنو هېوادونو د پرمختګ لپاره یوه مهمه سرچینه بولي. خو نوموړې د بېوزلۍ د دامونو ماتولو په موخه د هوښیارې مرستې او ستراتېژیکې مرستې اصطلاحات رامنځته کړې. هغه وړاندېز کوي چې بسپنه ورکوونکي هېوادونه باید په جګړه‌ځپلو هېوادونو کې د جګړې له پای وروسته د بیارغونې، د پالیسي چاپېریال د ښه کولو او د بنسټونو د جوړولو په برخه کې پانګونه وکړي. سره له دې هم، په خپل وړاندېز کې تر پایه له پورته څخه ښکته لوري ته تګلارې باندې د کتاب په ټول بهیر کې ټینګ پاتې کیږي. په کتاب کې هغه تر ډېره د یو اقتصادپوه لیدلوری لري، چې پراختیا ته یوازې د اقتصادي ودې له زاویې ګوري. هغه د ټولنیز او سیاسي پرمختګ مسله له پامه غورځوي چې مدني ازادي، سیاسي ګډون، او د فکر او بیان آزادي ډاډمنوي؛ او د انساني پرمختګ بنسټ جوړوي. امرتیا سین هم په خپل فلسفي اثر کې د پرمختګ د وسیلې او د موخې په توګه د بشري آزادۍ پلوي کړې (Sen, 2001).

کولییر باور لري چې د دوامداره پرمختګ لپاره باید بهرنۍ مرستې د نړیوالې سوداګرۍ له ودې سره یو ځای شي. دا لید نوموړی په لید کې له مویو سره ګډوي. په دې معنا چې د یو ملیارد فقیرانو لپاره د صادراتو نړیوال ملاتړ او همدارنګه د بهرنیو مستقیمو پانګونو غوښتنه کوي. که څه هم د

تیوري له پلوه دا ښه مفکوره ده، خو کتاب د هغه بشري پانګې اړتیا ته نه ګوري چې صادراتو په معیار برابر تولید لپاره اړینه ده. همدارنګه، جوړښتي ستونزې، د پالیسي تشې، تقنیني خلاوې، زیربنا، پور ته لاسرسی، او انرژي د صنعتي کېدو لپاره اساسي شرطونه دي، چې کولیېر پرې غور نه کوي او یوازې د نړیوال بازار لخوا د سوداګرۍ امتیازي تړونونه او ځانګړی چلند د اقتصادي ودې سرچینه بولي.

په ټولیزه توګه، د کولیير دا کتاب د پالیسي پر بنسټ ولاړ یو پیاوړی اثر دی چې د پالیسي په کچه د بحثونو او مناظرو لپاره یو قوي بنسټ برابروي. خو د بسپنه ورکوونکو ټولنې د بېروکراتیک چلند، له پورته څخه ښکته لوري ته تګلارې، او «زه په هر څه پوهېږم» ذهنیت ته په کتو سره، دا اثر ښايي د ځايي بنسټونو یا ظرفیت ارزښت کم کړي. له همدې امله، دا کتاب باید د مویو او ایسټرلي له آثارو سره یو ځای ولوستل شي.

۳. پایله

د بېوزلۍ له منځه وړلو، اقتصادي او ټولنيز پرمختګ په موخه د بهرنیو مرستو ونډه، او د هغو مثبتې او منفي اغېزو په اړه د لسیزو راهیسې د پوهانو ترمنځ بحث روان دی. د پراختیایي چارو متخصصینو لپاره د پایلو منسوبول تل یوه ننګونه وه. په داسې حال کې چې د یو مخالف دریځ ادعا دا ده چې بهرنیو مرستو د مرستې پرځای تړاو رامنځته او د پراختیایي اړتیاوو لپاره د دوامدارې حل لارې د لټون په موخه یې ځايي وړتیاوې فلج کړې دي. مخالف دریځ لرونکي د هغې متقابلې فرضیې (counterfactual) له استدلال سره مخ شوي دي چې د بهرنیو مرستو ونډه د دې لامل بولي چې بېوزله هېوادونه یې د تر ټولو بدو پایلو سره له مخېدو څخه ژغورلي دي. د وروسته پاتې‌والي پدېده ډېره پېچلې ده؛ چې ګڼ شمېر اساسي لاملونه او د هر ځای له ځانګړي وضعیت سره تړاو لري. له بلې خوا، وروسته پاتې ټولنې عموماً دومره نازکې وي چې یوه ټکان ورکونکې پېښه د هغوی د کلونو لاسته راوړنې له ګواښ سره مخ کولی شي چې بلاخره د دې سبب کېږي چې د یو ټاکلي وضعیت په اړه د شوې پانګوونې د کیفیت او کمیت په اړه شکونه ډېر شي.

د هغو پېچلو شرایطو له امله چې بهرنۍ مرستې پوښي، لا هم د څېړنو، ارزونو، شننو، او علمي بحث لپاره ځای شته. د دغو دریو کتابونو لیکوالان د بهرنیو مرستو اغېزمنتیا له بېلابېلو لیدلورو ارزوي، خو د ټولو ترشا یوه ګډه پوښتنه پرته ده: ایا بهرنۍ مرستې په اوسنی بڼه اغېزمنې دي؟ درې واړه په دې موافق دي چې د بهرنیو مرستو د رسولو لپاره باید نوې تګلاره جوړه شي ترڅو اغېزمنتیا یې زیاته شي . دا د څېړونکو او بسپنه ورکوونکو لپاره پر وخت یوه مهمه یادونه ده چې د بهرنیو مرستو دودېزه تګلاره له سره وارزوي او د اصلاحاتو داسې اجنډا جوړه کړي چې د ځايي اړتیاوو پر بنسټ، وخت‌محوره ځوابونه، د محلي رهبرۍ او طرحه شویو بنسټیزو اصلاحاتو، د پالیسي جوړونې، او د عامه خدمتونو د وړاندې کولو له بهیر سره تړلي وي. د پراختیایي برنامو تطبیقي او انعطاف منونکې تګلاره باید په بهرنیو مرستو کې شامله شي ترڅو برنامې د ځايي اړتیاوو لپاره عملي او اغېزمنې شي. سربېره پر دې، د بسپنه ورکوونکو پانګه باید د ټولنو اقتصادي ځانګړو وړتیاوو د پېژندنې او پیاوړتیا لپاره وکارول شي څو د هدف وړ هېوادونو او ټولنو لپاره بدیلې اقتصادي لارې پراختیا ومومي.

د دې دریو کتابونو ترمنځ د شته تړاو له امله، سپارښتنه کېږي چې لوستونکی دې لومړی یو ملیارد فقیران ولولي، تر څو د وروسته پاتې او بېوزلو هېوادونو د اړتیاوو په اړه د پالیسۍ په کچه پوهه ترلاسه شي. له دې وروسته دې د سپین پوستي پېټی ولوستل شي، تر څو عملیاتي یا د تطبیق اړونده د ځمکنیو واقعیتونو په تړاو ښه پوهاوی حاصل شي. مړې مرستې؛ پاروونکی ، مخالف دریځ لرونکی، او د موجوده حالت ننګونکې اثر دې تر ټولو وروسته ولوستل شي. همدارنګه، د دغو دریو پوهانو استدلالونه باید د هغو نورو پوهانو له نظرونو سره، چې په دې مقاله کې یاد شوي، پرتله او وازمویل شي، تر څو د بهرنۍ مرستې په اړه یو متوازن او انتقادي دریځ خپل شي.

کتابښود او سرچینې

Acemoglu, D., & Robinson, J. A. (2012). *Why nations fail: The origins of power, prosperity and poverty*. Profile Books.

Banerjee, A. V., & Duflo, E. (2012). *Poor economics: A radical rethinking of the way to fight global poverty* (Paperback ed). PublicAffairs.

Barnett, M., & Walker, P. (2015). Regime Change for Humanitarian Aid: How to Make Relief More Accountable. *Foreign Affairs,* 94(4), 130–141.

Chellaney, B. (2017, January 23). *China's Debt-Trap Diplomacy | by Brahma Chellaney*. Project Syndicate. https://www.project-syndicate.org/commentary/china-one-belt-one-road-loans-debt-by-brahma-chellaney-2017-01

Child Mortality. (2025, March). UNICEF DATA. https://data.unicef.org/topic/child-survival/under-five-mortality/

Collier, P. (2009). *The bottom billion*: Why the poorest countries are failing and what can be done about it. Recording for the Blind & Dyslexic.

Easterly, W. (2006). *The White Man's Burden: Why the West's Efforts to Aid the Rest Have Done So Much Ill and So Little Good*. Penguin Publishing Group.

Micheal, G. (2025, April 16). The New Humanitarian | *What if we stopped aid altogether?* https://www.thenewhumanitarian.org/opinion/2025/04/16/what-if-we-stopped-aid-altogether-refugee-uganda

Moyo, D. (2010). Dead aid: Why aid is not working and how there is a better way for Africa (1. American paperback ed). Farrar, Straus and Giroux.

Moyo, E., Moyo, P., Murewanhema, G., Mhango, M., Chitungo, I., & Dzinamarira, T. (2023). Key populations and Sub-Saharan Africa's HIV response. Frontiers in Public Health, 11, 1079990. https://doi.org/10.3389/fpubh.2023.1079990

Sen, A. (2001). Development as freedom (1. ed., 6th print). Alfred A. Knopf.

Steve, H. (2021, September 1). Afghanistan: A Poster Child for Foreign-Aid Failure. Cato Institute. https://www.cato.org/commentary/afghanistan-poster-child-foreign-aid-failure

WHO. (2024). Implementing the global health sector strategies on HIV, viral hepatitis and sexually transmitted infections, 2022–2030 Report on progress and gaps Second edition.

زابلي مرکز

د نظر پر ځای شواهد

د زابلي مرکز د افغانستان او سیمې پر اقتصادي څېړنو او د پالیسیو پر تحلیل تمرکز لري. موږ څېړو چې د افغانستان تجربې په ورته شرایطو لرونکو اقتصادونو کې څنګه ګټورې تماميداى شي او افغانستان د دغو هېوادونو له تجربو څخه څه زده کولاى شي .

په افغانستان او ورته هېوادونو کې اقتصادي بحثونه ډېر ځله د مسلکي پوهې او تخصص پر ځای د شخصي نظرونو پر بنسټ ترسره کېږي. موږ د اقتصادپوهانو او متخصصینو غږ پیاوړی کوو او د هغوی نظرونو او څېړنو ته د خپرېدو زمینه برابروو، څو پرېکړې د شواهدو او کره معلوماتو پر بنسټ وشي .

د اقتصادي څېړنو پرمختګ · د متخصصینو د غږ پیاوړتیا · د شواهدو پر بنسټ د پرېکړو ملاتړ